د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پانه: www.unama.unmissions.org

# رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسون مشره داکتر سیما سمر،**

**د ملګرو ملتونو د سرمنشی ځانګړی استازی کای آیده،**

**ادرین اېوارډز د یوناما د عامه اړیکو او عامه اطلاعاتو د ځانګړي مشر**

*کابل- یکشنبه، د می د میاشتی دریمه نیټه، کال ۲۰۰۹*

**یوناما:** سهار مو په خیر، د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی ښاغلي کای آیده او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د مشري آغلي سیما سمر مطبوعاتي کنفرانس ته ښه راغلاست. پیل به د سیما سمر بیا د کای آیده په تبصرو سره وکړو او په پای کي به ستاسو پوښتنو ته ځوابونه ووایو.

**سیما سمر:** سهار مو نیکمرغه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او یوناما په تیرو ټول ټاکنو کي د خلکو د سیاسي حقونود نظارت پر سر ګډ کار کړی دی . ددې کار موخه د ټول ټاکنو د پروسي چي پیل یي د رای ورکوونکود نوم لیکنو، د ټول ټاکنود کمپاین پر مهال بیا د رای ورکولو تر ورځي پوري نظارت کول و. موږ د خپلو پایلو د موندلو په هکله ګډ راپوروونه خپاره کړي دي . موږ غواړو چي د څلورو حقونو نظارت وکړو او دا د ټولو ټاکنو پر مهال ډیر مهم دي.

دا حقونه د بیان آزادي، د خوځښت آزادی، د سوله ییزه راټولیدو آزادی او د سیاسي ګوندنو او سازمانونو د جوړیدو حقونه دي. دلته همدارنګه دري اصول هم موجود دي، د تبعیض نشتوالی، بې طرفي او د ګواښ نشتوالی. موږ به په ګډه د دغو څلورو حقونو او دریو اصولو نظارت وکړو. موږ به په خپلو راپوروونو کي د هغو کسانو نومونه واخلو چا چي سرغړوني ترسره کړي وي. دا یو ښه اتفاق دی او نن د مطبوعاتو د آزادی ورځ هم ده. د سږ کال موضوع دایا لوګ او پخلاینه ده. لکه څنګه چي تاسو ټول پوهیږی د مطبوعاتو ازادي د دیموکراسي د پیاوړي کولو او د یوې آزادي ټولني لپاره یو اساسي ضرورت دی. دا ښکاره خبره ده چي د بیان آزادي ته پر هر وخت کي په ځانګړي توګه د داسي یوه وضعیت لپاره د کوم سره چي موږ سږ کال مخامخ یوو، ضرورت لیدل کیږي. لکه څنګه چي سږ کال په هیواد کي د ولسمشر او ولایتي شوراګانو ټول ټاکني پر لاره اچول کیږي دا ضروري ده چي ډله ییزه رسنی خپلواک نقش ولري.

ترڅو چي په یوه ټولنه کی آزاد مطبوعات موجود نه وي نشي کیدای هغه دیموکراتیکه شي. تاسو کولای شي د دیموکراسي د پیاوړتیا لپاره، هر چیري په ځانګړي توګه په افغانستان کي نقش ولوبوي. ستاسو څخه غوښتنه کوم چي د مطبوعاتو د آزادی او د بیان د ازادی په پیاوړی کولو کي په خاص ډول د ولسمشریزو او ولایتی شوراګانو د ټول ټاکنو په پروسو کي د ښځو د هڅولو او ګډون په برخه کي خپل رول ولوبوي. له بده مرغه یو شمیر کمو ښځو د ولایتي شوراګانو د ټول ټاکنو لپاره ځانونه کاندید کړی. غواړم اوس د خبرو فرصت ښاغلی کای آیده ته ورکړم او ستاسو پوښتنو ته به د کنفرانس په پای کي ځواب ووایم.

## په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی ښاغلی کای آیده:

ډیره زیاته مننه. اجازه راکړئ زه هم د مطبوعاتو د آزادي په هکله څو خبري وکړم.

زه هم غواړم د ډاکټر سیما سمر په خیر په دي خبره ټینګار وکړم چي د یوې ازادي او دیموکراتیکي ټولني لپاره د ډله ییزو رسینو آزادي د پام وړ اهمیت لري او باید دی ته هرومرو درناوی وشي. دا په ټولیز ډول د منلو وړ نه دی چي خبریالان دی د هغوي د مسلکي فعالیتونو لپاره له خنډ سره مخامخ شي. د مطبوعاتو آزادي هره ورځ مهمه ده، خو دا د ټول ټاکنو د کمپاین او د ټول ټاکنو د ورځ لپاره هم مهم ده.

زه فکر کوم چي موږ او ډله ییز رسنی زیاتره د خبرو اترو په موخه د میز بیلا بیلو اړخونو ته واقع یو. تاسو چي څومره غواړئ موږ هغومره تر نیوکو لاندي نیولای شیء. خو دلته دغه اساسي اصول شته او موږ باید د یو بل تر څنګ ودریږو، زه غواړم چي د شراکت ورانديز وکړم. دا د مطبوعاتو د ازادي په حواله ده او دا زموږ ټولو لپاره اساسي اهمیت لري. زه د دي په لیدو خوشحاله کیږم چي افغان خبریالان د خپلو حقونو د ساتلو لپاره سره رایوځای کیږي. خو کله چي دغه خبره ټول ټاکنو ته راجع کیږي، زه غواړم چي له تاسو ټولو څخه په ځانګړی توګه د ډله ییزو رسنیو څخه وغواړم چي کاندیدانو ته د هغوي د نظریو د لاس رسي په اړه ډاډ حاصل کړیء. زه همدارنګه له تاسو څخه غواړم چي د عامه پوهاوي، ټول ټاکنو او د ټول ټاکنو د پروسي په هکله پوهاوی لوړ کړیء ترڅو موږ وکولای شو په ممکنه توګه د رای ورکولو په ورځ زیات شمیر خلک بسیج کړو.

ډاکټر سمر د هغو هڅو چوکاټ په ګوته کړ چي موږ یي په ګډه سره په کی کار کوو او زه ډیر خوښ یم چي موږ بیا سره راغونډ شوی یوو او غونډي کوو لکه په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کي چي مو درلودلي. زما په نظر د غونډو اساسي هدف دا دی چي د سیاسي پروسي لپاره یو ازاد چاپیریال برابر کړو، چي د کاندیدانو، د دوي د

پلویانو او رايي اچوونکو ټولو د حقونو احترام وشي. زه باوري یم چي په دې کال کي تر ټولو مهمه خبره دا ده چي دا ډول شرايط باید موجود شي. البته موږ به راپور خپور کړو، مګر موږ همدارنګه دا به هم ښکاره کړو که چیري موږ ووینو چي دا ډول ازادي ګاني او اصول تر پښو لاندي شي او موږ د هغو ثبوت پیدا کړو. زما په نظر د ټاکنو د پروسي نظارت یا څارنه ده، څکه زه فکر کوم چي په دې ډول به موږ خپل مطلب څرګندولای شو. دا یوازیني مساله نه ده. ډیر نور عناصر هم شته چي د داسي شرايطو په رامنځ ته کولو کي مرسته کوي. زه د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون، د رسنیو د کمیسیون، د ناظرینو په باب فکرکوم چي ښايي دلته راشي، او دا ټول باید په افغانستان کي دننه تنظیم شي. زه هیله من یم چي د افغانستان ولسمشر به ډیر ژر په دې باب یو فرمان صادر کړي چي له مخي به یې رسمي موسسي او کارکوونکي د ټاکنو په پروسه کي مداخله نه کوي.

اجازه راکړئ یوازي دا ووایم چي زه به د ملګرو ملتونو په استازیتوب او د پراخي نړیوالي ټولني په ملاتړ سره دوه پاڼي نشر کړم چي هغه به په ربښتیا سره دا هر څه راټول کړي چي د ټولو هغو کسانو لپاره به د سلوک بنسټیز لارښودونه وي، څوک چي په ټول ټاکنو کي مصروفیت لري.

او دا د ټول ټاکنو په کمپاینو پوري اړه لري، د ټولو ټاکنو په ورځي پوري او د انتخاباتو سملاسي وروسته انتخاباتي بهیر پوري اړه لري. او دا په دولتي کارمندانو پوري اړه لري او یا هم په کاندیدانو او د هغوي په ملاتړو پوري تړاو لري او دا چي هغوي د ټول ټاکنو په کارمندانو پوري اړه لري. او کیدای شي چي زه همدارنګه د رسنیو او نړیوالو استازو په اړه ووایم. موږ په دې هیله یو چي دا به یو یادښت او لارښود وي چي هغه به د ټولو له خوا د ټولو ټاکنو د پروسي لپاره منل شوی وي چي دا به د افغانستان دیموکراتیکي موسسي څواکمني کړي.

اجازه راکړئ یوازي په پای کي یوه مهمه ملاحظه دلته اضافه کړم او هغه دا چي: دا ټول ټاکني د نړیوالي ټولني له خوا نه دي تنظیم شوي او لکه چي تاسو پوهیږئ هغه د افغاني موسسو او چارواکو له خوا تنظیم شوي دي. نړیواله ټولنه نن دلته ده چي د ملاتړي دنده ترسره کوي او موږ به کوښښ وکړو چي دغه د ملاتړ دنده د خپل توان او زیرمو سره په ښه توګه سرته ورسوو.

### د پوښتنو او ځوابونو برخه:

**د آزادي راډیو:** تاسي د رسنیو د خپلواکۍ په هکله خبري وکړي او د هغوي څخه مو وغوښتل چي په بی طرفی سره عمل وکړي. په بدل کي رسني هم ستاسو څخه تمه لرئ هغه دا چی کله به تاسو د بشری حقونو څخه سرغروني افشا ء کړي؟

**د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون:** ډیره مننه. د ټول ټاکنو خپلواک کمیسیون هیڅکله هم دا نه دي ویلی چي دوي به د سرغړونکو نومونه افشاء کړي. ځیني کسان په واقعی ډول د بشری حقونوڅخه سرغړونه کوي. تاسی به په یاد لرئ چي موږ د هغوي نومونه افشا کړي دي. داسی لست نشته چي موږ تر اوسه افشاء کړي نه وي. دا هم یوازی د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون مسولیت نه دی چي دوي هغه نومونه افشاء کړي کومو چي جنګی جرمونه او یا بشری ضد جنایات تر سره کړي دي. کمیسیون هوډ لري چي دا مستند کړي خو موږ اوس تیار نه یو چي دغه رپوټ د ټاکنو څخه مخکی خپور کړو. او کله چي دغه رپوټ تیار شی هغه به ستاسي په اختیار کي وي.

**پر له پسی پوښتنه:** په داسی حال کي چي موږ د ټاکنو په لور روان یو او دا ډیر مناسب وخت دی، نو څوک به دغه نومونه افشاء کړی. که چیري دا اوس تر سره نه شی، دا به ډیره ګرانه وي چي خلک پوه شی چي څوک جنایت کار دی او څوک نه دی.

**د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون:** موږ د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون لرو او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د هغه یو غړی دی. په دغه کمیسیون کي ۵ غړي شته. یو له ستری محکمی، دری د یوناما او یو د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون څخه. هر افغان دا حق لري چي خپل شکایت په دغه کمیسیون کي ثبت کړي. که چیري کمیسیون وغواړي نو زموږ څخه، لوی څارنوالی، ستره محکمه او یا حتی د داياګ د کمیټي څخه د هغه کس د شاليد په اړه پوښتنه کولای شي. که چیری موږ ته د یو ځانګری شخص په

اړه شکایت راشی نو موږ کمیسیون آگاه کوو. زه غواړم چي یو شی ووایم، هغه دا چي ځینی نومونه ډیر آشنا دي نو دې ته اړتیا نه شته چي په تکرار سره د دوي نومونه اعلان شی.

**ځانګړي استازی:** څرنګه چې ډاکتر ثمر وویل، زه هم د شکایاتو د کمیسیون پر دریوګونو ټینګار کوم او یو څه وایم. زما په آند دا ډیره مهمه ده چي موږ کومی بیلابیل رسمی او غیر رسمی میکانیزمونه لرو یو د بل متمم دي او د یو بل سره سیالی نه کوي او دوه ګونی عمل نه تر سره کوی. زه فکر کوم چي دا یوازنی لاره ده چي موږ کولای شو ټول عمل مؤثر کړو.

**د ټایمز ورځپاڼه:** زه غواړم له دواړو څخه وپوښتم چي ایا دا ریښتیا ده، که امنیتي شرایط او د ثبت کولو د ورځو بي نظمي په نظر کي وساتو او دا حقیقت چي حکومت د جنوبي برخي په ځینو ولسوالیو کي شتون نه درلود، ایا د آزادو او عادلانه ټاکنو تمه کیدای شي؟

**د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون:** د یوه افغان په حیث زما تمه دا ده چي ټاکني باید وشي او هر افغان باید خپله رایه واچوي حتی په هغو ولسوالیو کي چي د حکومت ضد عناصرو په ولکه کي دي او زه له ټولو مخالیفینو څخه هم غواړم چي په دې پروسه کي ګډون وکړي، ځکه دا یوه سوله ییزه پروسه ده او دوي کولای شي چي په ځواک کي برخه ولري.

زما اندیښنه دا ده چي ځینو ښځو د ثبت کارتونه اخیستي دي خو دوي پخپله د ښتولو په وخت کي حاضري نه وي. او که دوي د دې حق نه درلود چي پخپله د ښتولو لپاره راشي څنګه به دوي د دې حق پیدا کړي چي د رایي اچولو په وخت کي حاضرې شي. او بله مساله دا ده چي ښایي د هغو حقایقو په وجه چي ما یاد کړل جعل کاري او غبن هم وشي.

**ایرنا:** زما پوښتني ښاغلی کای آیده متوجه ده. د بین المللی څارونکو په اړه زه غواړم چه و پوهیږم چه څه شمیر ناظرین او له کومو هیوادونو څخه به ناظرین افغانستان ته راشي، او آیا دوی به نا امنو سیمو ته هم و استول شي؟

**ځانګړی استازی:** لکه څرنګه چي تاسي هم به جریان کي یاستئ له هغو سازمانونو له خوا چي افغانستان ته یې استازي رالیږي د حقیقت موندني یو پلاوی شته دی. د هیواد په ځینو برخو کي ستونزمنه امنیتي وضعه قایمه ده. خو زه هیله من یم او زه غواړم هغو موسسو ته غږ وکړم په تیره بیا، اروپايي ټولني او په اروپا کي د امن او همکاري سازمان (OSCE) ته چي هر څومره زیات امکان ولري، په اوسني امنیتي شرایطو کي زیات څارونکي راولیږي. دا پوره واضحه ده چي نظارت یوه مهمه وسیله ده، او ښکاره ده چي د بهرنیو څارونکو سربیره به دلته افغان څارونکي هم وي. زه پوهیږم چي هغه څه چي مونږ یې د څارونکو څخه هیله کوو، د انتخاباتو په دې پروسه کي به او د انتخاباتو په ورځ به خپله دنده ترسره کړي.

که زه وکولای شم چي پخوانی پوښتني ته ځواب ووایم: هوکي، زما هیله دا ده چي ټول ټاکنی باید آزادي، او تر ممکنه حده عادلانه وي، او داهم په اوسنیو امنیتي شرایطو کي. او مونږ پوهیږو، چي دغه شرایط به مو ستونزمن وي، خو مونږ باید دا باوري کړو چي انتخابات شفاف او با اعتباره وي. او د دې پایلي د افغانستان د خلکو د ارادي ښکارندوی وي، او دا چي پایلي یې د افغانستان د خلکو له خوا ومنل شي. دا ډیره زیاته مهمه ده. د امنیتي حالت په هکله اوس مونږ په دقیقه توګه نشو ویلای چي د اګست په شلمه نیټه به څه کیږي. جوته ده چي زما هیله دا ده چي په دغه حالت کي مونږ وتوانیږو چي په ټول هیواد کي ټولټاکني تر سره شي. او زه به د داکتر سیما ثمر سره دا تکرار کړم چي د اپوزیسیون په ګډون ټول په انتخاباتو کي ونډه واخلي.

**ای ایف پی:** زما بله پوښتنه له سیما سمر څخه ده، او هغه د هغو میرمنو په هکله ده چي د باندي تلای نه شي او د هغوي پر ځای نورو کسانو د ټاکنو کارتونه اخیستي دي، تاسو هم په ټاکنو کي د درغلیو په اړه یو څه وویل. د کومو حقایقو پر اساس تاسو دا خبره کوئ، آیا تاسي په دي هکله کوم فکر لرئ او د کومو کسانو په واسطه دا درغلی ترسره شي؟

**د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون:** د یو شمیر ښځو کارتونه چې د نورو کسانو په واسطه اخیستل شوي دي، په اړه یې موږ سره دقیق شمیر نشته، خو زه کولای شم تاسې ته یو مثال درکړم، چې په یو ولایت کې د ټولو راجستر کسانو له شمیره ۷۲ په سلو کې ښځې وي، چې ډیر د حیرانتیا وړ خبره ده. کوم شی چې ماته د حیرانتیا وړ ده، هغه دا حقیقت دی چې نارینه خپل د ښځو د نومونو په یادولو سره د هغوي په استازیتوب د نوم لیکنې کارتونه تر لاسه کوي. په دې دلیل زه ویلای شم چې د درغلۍ امکان شته. همدارنګه یو بل امکان هم شته او هغه دا دی، هغه نارینه وو چې خپل د ښځو په وکالت یې کارتونه تر لاسه کړي هغوي به دغه کارتونه د خپل خوښې کاندید ته ورکړي، چې دا په خپله د درغلۍ یو امکان دی. د بلې پوښتنې په ځواب کې چې تاسې د دغې موضوع تخنیکي له پلوه وپوښتله، د ساری په ډول د رنګ مساله، دا امکان لري هغه کسان چې د ۱۰ او یا ۱۲ رایه ورکولو کارتونو سره راځي، دوي به یوازې یو ځلې خپله ګوته رنګ کړي.

**ځانګړی استازی:** زما په اند دا هغه اساسي ننګونه ده چې د ټول ټاکنو کمیسیون د ټاکنو په ورځ ورسره مخامخ شي. په دې کې هیڅ شک نشته چې یو څه بې نظمي به وي، هغه به څومره مهمې وي، زه فکر نه کوم چې اوس به هغه په بشپړ ډول درک کړو. موږ له تیرو ټول ټاکنو څخه داسې پوهیږو، چې د ټول ټاکنو ورځ به په ځانګړی ډول یوه سخته ورځ وي. د ټول ټاکنو د کمیسیون له خوا باید ډیره پاملرنه وشي، کوم شی چې د ټول ټاکنو په ورځ د رایې اچولو په مرکزونو کې پیښیږي، هغه خطر دې تر ممکنه حده پورې راکم کړای شي.

**ګارډیان:** ایا تاسو کولای شئ چې د دې امکان په اړه زیات معلومات ورکړئ چې اپوزیسیون په ټاکنو کې د برخه اخیستنې څومره امکانات لري او دا ددې واقعیت سره چې د اپوزیسیون یوه زیاته شمیره د دولت پر خلاف په انقلابي جګړه کې اخته ده؟

**ځانګړی استازی:** دا یوه پیچلې پروسه ده. ما تل ویلې دي چې زه غواړم یوه سیاسي پروسه پر لاره شي، که دې ته پخلاینه ووایو او یا د سولې پروسه او یا هر بل نوم چې تاسو یې ورکول غواړیء. زه په دې باور یم چې اپوزیسیون باید په دې پوه وي چې هغه کسان چې غواړي په ټاکنو کې برخه واخلي او د اساسي قانون احترام وکړي نو باید دروازه د هغوي پر مخ پرانیستې وي. زه نه غواړم چې ستونزې کمې وښایم، خو زه فکر کوم چې دا مهمه ده څو چې لاس وغځوو او ووایو چې دا به ښه وي چې موږ باید د رایو د صندوقونو د لارې مقابله وکړو نه دا چې د جګړې په ډګر کې وجنګیږو. دا باید زموږ د ټولو موخه وي. آیا دا یوه پیچلې مسله ده؟ بلې دا ډیره زیاته پیچلې سیاسي مسله ده خو یو ډول سیګنال باید ورکړای شي.

**د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون:** زه غواړم ددې سره یو څه زیات کړم، موږ نه شو کولای چې د رایې ورکولو حق څخه سترګې پټې کړو، حتی د هغه چا لپاره چې د دولت پر ضد جنګیږي او دا چې هغوي د افغانستان اتباع وي دغه حق لري.

**هشت صبح:** داسې راپورونه شته چې له مخې یې کای ایده ویلي دي چې مارشال فهیم نه شي کولای چې د ټاکنو لپاره د حامد کرزی سره یو ځای ودریږي. ځینې نور داسې کاندیدان هم شته چې د افغانستان اساسي قانون نه مني او له حکومت سره مخالف هم نه دي مګر د دوي شعارونه د اساسي قانون او د بشري حقونو د ارزښتونو سره برابر نه دي. د داسې کاندیدانو لپاره ممانعت شته او که نه؟

**ځانګړی استازی:** ما د افغانستان له ولسمشر سره ډیر ځلې مباحثې کړې دي، زه خوښ یم چې له هغه سره مې په څو مسالو ډیرې ازادې او ګټورې مباحثې درلودلې. د مارشال فهیم مساله په دې مباحثو کې راغلې ده او ایا ما خپله نظریه په دې باب څرګنده کړې ده؟ که تاسې له ولسمشر سره د مباحثو په باب هره پوښتنه مطرح کويء تاسې به همدا ځواب واورې. او هغه دا ده چې زه له ولسمشر سره د مباحثو د محتوا په باب څه تبصره نه کوم. که زه نن ورځ دغه ځواب تاسې ته در کړم بله اوونۍ تاسې بله پوښتنه کوې او دریمه اوونۍ د یوې دریمې مسالې په اړه پوښتئ. زموږ په منځ کې کومې داسې مباحثې نه وې چې موږ یې پټې وساتو. موږ یوه عامه مباحثه درلودله چې خبري رسنۍ هم راغلې وې او تاسې به وویني‌ء چې دا نا ممکنه ده. نو ځکه زه هغه راپور چې ستاسې ورځپاڼې پرون خپور کړی دی نه شم کولا ی چې رد یې کړم یا هغه تایید کړم.

**د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون:** ستاسې د هغو پوښتنو په باب چې ځېنې کاندیدان د اساسي قانون په ضد شعارونه لري، په دې باب یو میکانیزم ایجاد شوی دی چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون دی.

دویمه لار یې په خپله له خلکو سره ده. دوی باید هغو کسانو ته رايي ورنه کړي چې فکر کوي هغوي د اساسي قانون او د بشري حقونو د ارزښتونو پرضد دي. زه فکر کوم چې دا یوه ښه طریقه ده، ځکه د افغانستان قضايي سیستم په داسي حالت کي نه دی چې په جنګي جرمونو تورن کسان ونوموي.

**د امریکا غږ:** زه غواړم چې یوه لنډه پوښتنه له ډاکټر سیما سمر څخه وکړم، چې زیات شمیر کارتونه توزیع شوی دی او زه غواړم پوه شم چې دغه پروسه څوک تنظیموي او څوک دغه ډول کارونه کوي؟

**د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون:** زما په نظر د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون نه باید نارینه وو ته اجازه ورکړي چې د خپلو ښځینه وو څخه استازیتوب وکړي، د هغوي نومونه راوړي اود هغوي په استازیتوب کارتونه واخلي ځکه په دې طریقه موږ نه شو کولای چې دیموکراسي ته وده ورکړو او ستاسي د پوښتني په باب چي ایا حکومت په داسي کارونو کي ونډه لري، بیا هم دا د شکایتونو د کمیسیون دنده ده چې دا ډول مسالي هواري کړي.

**رویترز:** زه غواړم چې د ثبتولو په باب خبره را غبرګه کړم چې تاسي ورته اشاره وکړه. آیا تاسي کومه احصائیه او حتی شفاهي کیسي اوریدلی دي چې داسي پیښي له لوګر څخه پرته په نورو ولایتونو کي هم پیښي شوې دي؟ آیا په جنوبی ولایتونو کي مختلف قواعد شته لکه لیکني اصولي خبره دا ده چې هر څوک د ثبتولو لپاره باید پخپله حاضروي چې خپل کارتونه واخلي. آیا په محلي کچه د ثبت په وخت کي په دی باره کي کومي ستونزې موجود وي؟

**د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون:** ما لوګر د مثال په ډول ویل مګر په نورو ولایتونو لکه پکتیکا، خوست او پکتیا او د جنوب په ځینو نورو ولایتونو کي هم دا ډول پیښي شوی دي. اصولي خبره دا ده چې هر څوک چې ځان ثبتوي باید شخصا په خپله حاضروي، ګوته ولګوي یا عکس ورکړي.

**د پوښتني پرلپسي برخه:** که داسي نه وي تطبیق شوی د دي مانا دا ده چې د ثبتولو په وخت کي قانون نه دی مراعات شوی؟

**د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون:** په هر حال هرڅوک چې ځان ثبتوی باید پخپله شخصا هلته وي، خپله ګوته ولګوي یا عکس ورکړي چې خپل کارت تر لاسه کړي. که چیری داسي نه پیښیږي مانا یې دا ده چې رسمي کارکوونکي په فساد اخته دي.